مجمع مدافعـان حقوق بشـــر
د بشري حقونو مدافعانو ټولنه
Human Rights Defenders Plus

HUMAN RIGHTS
DEFENDERS PLUS

**اعلامیه!(HRD+) د بشري حقونو مدافعانو ټولنې**
**د کندز په ولایت کې د ښځینه خبریالې ناظره رشیدي د خپلسري نیونې د غندنې په تړاو!**

اندېښنې او سخت غبرګون سره، د کندز ولایت کې د ژمنې ښځینه خبریالې **آغلې ناظره رشیدي** هغه خپلسري نیونه چې د طالبانو د استخباراتو له لورې ترسره شوې ده، په کلکه غندي. دا اقدام د افغانستان د بنسټیزو ازادیو، په ځانګړې ډول د بیان ازادۍ، د رسنیو ازادۍ او د ښځو د حقونو ښکاره او سیستماتیک نقض دی.

د باوري معلوماتو له مخې، آغلې رشیدي د سې‌شنبې په سهار شاوخوا ۸ بجې، له ټیلیفوني اړیکې وروسته او د خپل شخصي کور څخه د وتلو پر مهال ونیول شوه. ځایي سرچینې تاییدوي چې نوموړې د نیول کېدو پر مهال له نامناسب روغتیایي حالت سره مخ وه او تر دې وړاندې هم د خپلو مسلکي رسنیزو فعالیتونو له امله څو ځله له ګواښونو او فشارونو سره مخ شوې وه.

د ناظره رشیدي خپلسري نیونه د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د **نولسمې مادې** ښکاره سرغړونه ده؛ هغه ماده چې د عقیدې او بیان ازادۍ، د معلوماتو لټون، ترلاسه کول او خپرول د هر ډول رسنۍ له لارې او له سرحدي محدودیتونو پرته تضمینوي. د خبریالانو، په ځانګړې ډول د ښځو خبریالانو ځپل، د دې بنسټیز اصل مستقیم نقض بلل کېږي.

دا اقدام د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق له شلمې مادې سره په بشپړ تضاد کې دی. کوم چې هر ډول اجبار، ګواښ او سازمان یافته ځپنې چې د افرادو د اساسي حقونه تر پښو لاندې کوي، ردوي. د خبریالانو نیونه یوازې د هغوی د مسلکې دندو د ترسره کولو له امله، د واک ښکاره ناوړه استفاده او د نړیوالو ژمنو نقض دی.

سربېره پر دې، د طالبانو چلند له آغلې رشیدي سره د ښځو پر وړاندې د هر ډول  تبعیض د له منځه وړلو د کنوانسیون (سیډا) له ټولو اصولو او ژمنو څخه سرغړونه ده؛

هغه کنوانسیون چې دولتونه مکلفوي څو په ټولو برخو کې، لکه کار ته لاسرسی، د بیان ازادي، ټولنیز ګډون او شخصي امنیت، د ښځو پر وړاندې جوړښتي تبعیض له منځه یوسي. د ښځینه خبریالانو په نښه کول د بنسټیز جنسیتي تبعیض او له عامه فضا څخه د ښځو د حذف سیستماتیک سیاست څرګندونه کوي.

د بشري حقونو مدافعانو ټولنه د آغلې ناظري رشیدي ډیرژر، د

**بې‌قیده او شرطه او له هر ډول ځورونې څخه د خوندي آزادۍ** غوښتنه کوي او ټینګار کوي چې د هغې د فزیکي او رواني سلامتۍ بشپړ مسؤلیت د نیوونکو پر غاړه دی. موږ همدارنګه په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو، په ځانګړې ډول د ښځینه خبریالانو پر وړاندې د وېرولو، خپلسرو نیونو او سرکوب د سیاست د پای ته رسولو غوښتنه کوو.

موږ له مدني بنسټونو، روڼاندو، رسنیو، علمي ادارو او د بشري حقونو له شبکو څخه، په کور دننه او بهر، غوښتنه کوو چې د ټولو مدني، رسنیزو او حقوقي لارو په کارولو سره، د ناظره رشیدي د خوشې کېدو لپاره په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه حق غوښتنه وکړي او پرېنږدي چې دا ښکاره د بشري حقونو نقض په چوپتیا کې تېر شي.

د بشري حقونو مدافعانو ټولنه په ځانګړي ډول د ښاغلي **ریچارډ بنټ** افغانستان کې د بشري حقونو پر وضیعت د ځانګړي راپور ورکوونکی ، همدارنګه له آغلې **ایم السالم**، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د ملګرو ملتونو له ځانګړي راپور ورکوونکي، او آغلې **ایرین خان**، د بیان ازادۍ په چارو کې د ملګرو ملتونو له ځانګړي راپور ورکوونکي څخه غوښتنه کوي چې په دې قضیه کې **ژرترژره او اغېزمن مداخله** وکړي، د ناظرې رشیدي د نیونې موضوع د ملګرو ملتونو په رسمي غونډو کې تعقیب کړي او د هغې د ژر تر ژره خوشې کېدو او د ښځینه خبریالانو د ځپنې د درولو لپاره عملي ګامونه پورته کړي.

د داسې پېښو پر وړاندې چوپتيا، د بشري حقونو د نقض عادي کول دي. د ناظره رشيدي دفاع، د بيان ازادۍ، د انساني کرامت او په ټولنه کې د ښځو د حضور د حق دفاع ده.

**د بشري حقونو مدافعانو ټولنه**

**HRD+**

Website: www.hrd-plus.net

Email: Info@hrd-plus.net